# د رحمان بابا په شاعرۍ کښې مقاميت او قوميت

نګينه خانم نګين، فرحنده لياقت

**Abstract**

It is an irrevocable fact the poetry of Rehman Baba is almost devoted to improve moral values. It has a clear message of peace and solidarity for all human community. But it is also admitted that a certain society and community has their own psychology, culture and mental attitudes that develop and emerge its own social values. So the poet intended to furnish the moral values of Pukhtoon using Pukhtoon assists, traditions as symbols and tools. In this article those tools and symbols are explored, that will help us to understand the message of Rehman Baba nicely.

رحمان بابا د پښتو ژبې او پښتنو ملي شاعر دے. خو مونږ ئې هغسې ملي شاعر نۀ شو منلے لکه چې خوشحال خان خټک ته په کوم نظر ګورو يا ځنې نور خدائي خدمتګار شاعران. چې خپله شاعرۍ کښې د خپل وطن، قام او اولس د ننګ، پت او غېرت د راويښولو دپاره د خپلې شاعرۍ د وسيلې نه د وسلې کار اخستے دے. او دا څۀ ضروري هم نۀ ده چې د هر شاعر د وېنا انداز او آواز دې يو شان وي. د رحمان بابا د وېنا خپل بېل او منفرد انداز او يو توانا تاثر دے. لکه چې خپله ئې د ځان باره کښې وئيلي دي:

چې دا نور شاعران کاندي هغه نۀ کا
رحمان کړے نوے نوے اجتهاد دے[1]

او نوے نوے اجتهاد هاغه شاعر کولے شي چې د شاعرۍ د رموزو نه نۀ صرف واقف وي بلکې په شعر ګويۍ ئې پوره ګرفت او په دې مد کښې ئې ډېر رياضيت کړے وي. خو د دې باوجود هم مونږه وينو ګورو چې په رحمان بابا د خپل قوميت (پښتون قاميت، قام پرستۍ) او وطنيت يا مقاميت (پښتونخوا) جوت اثرات مرتب ليدے شي. او د دې وجه دا ده چې هر يو بنيادم چې په کوم چاپېرچل کښې استوګنه کوي. د ژوند شپې ورځې تېروي. نو د هغې ټولنې او چاپېرچل اثرات به پرې ارو مرو مرتب کېږي.

رحمان بابا خپل دیوان کښې ځائے په ځائے د خپل وطن، قام او ژبې تذکره کړې ده او د خپل عصر، دور او زمانې په ځینو ځینو واقعاتو ئې تبصره هم کړې ده. د هغهٔ د دغه تبصرې نه دا صفا برېښي چې دغه مبصر مشاهده کوونکے او تبصره کوونکے د بلې ژبې نه بلکې د پښتو ژبې پښتون شاعر دے. چې په خپله شیرینه پښتو ژبه کښې ئې په خپله شاعرۍ کښې د پښتنې معاشرې کردارونه او اخلاقیاتو ډېر څرګند اړخونه راخستي دي. د ښهٔ او خراب اندازه به ئې لوستونکو ته ښهٔ کیږي.

د رحمان بابا یو شعر دے چې:

لکه سیند د اباسین په غورځنګ درومي
هسې یُون دے په تلوار تلوار د عمر[2]

او څرګنده ده چې دا شعر د رحمان بابا د خپلې شاعرۍ نمائنده بېت دے چې د عمر د تېرېدو ئې پکښې په ډېره تېزۍ ذکر کړے دے. خو "سیند د اباسین" تر لیک ئې خالص شاعرانه سره سره د خپل مقامیت څرګندونه هم کوي. ښکاره ده چې اباسین یا اباسیند د پښتنو شاعرانو په خیال، سوچ او تصور حاوي دے. او لهٔ دې ځنې د پښتو ادبیاتو لوستونکي ښهٔ خبر دي چې اباسین په سلګونو میلونو په پښتونخوا کښې راتېر شوے دے. او د دې ځائے شاعرانو جذبات هم داسې راپاروي لکه د مصر د شاعرانو جذبات چې د نیل دریاب راپاروي. نو رحمان بابا هم خپل پورتني شعر کښې د "اباسین" لفظ په ځایولو، چې یو اوږد روایت او ثقافت لري. خپل دغه شعر کښې د پښتونخوا دغه عظیم دریاب په ډېره شاعرانه پیرایه او ښکلې تلازمه کښې ځائے کړے دے.

رحمان بابا بل ځائے کښې وائي چې:

باړه اوتړه هله کښت زراعت کړه
تقویٰ دار شه هله طمع د جنت کړه[3]

د "اباسین" په رنګ د "باړې" د سیند د تګ لار هم په پښتونخوا راتېره شوې یوه زړهٔ پورې کرښه ده. "باړه" سیند د پېښور د مومندو او خلیلو په ژوند کښې کافي اهمیت او ډېر لوئے حېثیت لري. او دا خبره هم ښکاره ده چې د پېښور مومند په "باړې مومند" باندې مشهور دي. "باړه تړل" په دوه معنو کښې هم اخستے شو یو خودا چې د باړې سیند خپلو پټو ته راواړول او بله دا چې خپلو پټو ته "باړ" شپول وتړو. نو دا هم د پښتون د روایاتو او ثقافت سره تعلق لري. خو اوله معنیٰ ئې زیاته قوي او مضبوطه ده.

د رحمان بابا په شاعرۍ کښې یو بېت د پښتون اقدارو ترجماني داسې کوي چې:

کۀ د عشق لاره اغزنه ده هر ګور
د عاشق په پښو څپلی دي هم د اور[4]

دغه شان د رحمان بابا یو بل شعر چې:

زۀ عاشق یم سروکار مې دے له عشقه
نۀ خلیل نۀ داؤدزے یم نۀ مهمند[5]

دلته که د رحمان بابا عشق هم افاقي دے او د رنګ، خېل، قوم، مذهب هر څۀ نه اوچت بې د عشق تصور وړاندې کړے دے. نو بل خوا بې د خلیل مومند یا داؤدزي قومونو د تعصب او محبت هم ذکر کړے د. او د قومیت دا نظریه علامه اقبال هم لري. وائي:

یوں تو سید بھی مرزا بھی ہو افغان بھی ہو
تم سبھی کچھ ہو بتاؤ کہ مسلمان بھی ہو[6]

زمونږ مقصد د دې مضمون نه دا دے چې زمونږ یاد شاعر د کوم قام، قبیلې، وطن او خاورې سره تعلق لري. وړاندیني شعرونه هم دغه مقصد پوره کوي. او په دغه پورتني شعر کښې هم د پښتون قام د لباس د یوې برخې "پائیزار" ذکر شوے دے. دا د پښتنو خالص خپل پائیزار څپلی دي چې د بل وطن او علاقې خلق ئې نۀ په ښپو کوي. د شاهجان باچا، اورنګزیب عالمګیر، شاه عالم او اعظم په زمانه کښې به څپلی فقط د پښتون په ښپو وې. هاغه وخت د نورو قامونو خلقو څپلی نۀ په ښپو کولې.

خپل یو بل شعر کښې د خپلې علاقې بلکې د مومندو د کلیو متعلق د "اربابانو" په حواله داسې خبره کوي چې:

چې عاشق په عاشقۍ کښې ارباب نۀ شي
کۀ د درست جهان ارباب شي ارباب نۀ دے[7]

د رحمان بابا دغه بېت هم د هغۀ په قامیت او مقامیت دلالت کوي چې لفظ "ارباب" به د مومند خانانو او نوابانو دپاره استعمالېدو یا به هغوئ د ځان دپاره پکارولو. په پښتونخوا کښې د ځینو پښتنو قبیلو سرداران، خانان او نوابانو د "ارباب" په نامه بللے شي. لکه د پېښور د غوریاخېلو اربابان (چې اوس ارباب لنډۍ کلے هم د دوئ په مناسبت یادیږي) ارباب مستجاب خان مومند او ارباب محسن خان مومند. دا مشهور اربابان دي چې د خوشحال بابا په شاعرۍ کښې ئې هم ذکر لیدے شي. په کوئټه کښې د کاسیانو مشران هم د اربابانو په نوم یادیږي. او په افغانستان کښې د هزاره ؤ ځنې مشران هم د اربابانو په نوم یادیږي.

رحمان بابا خپله شاعرئ کښې د خپل وطن پېښور او باګرام تذکره کړې ده. او د خپل قبيلوي نسبت خبره ئې هم کړې ده چې په راروانو بېتونو نه به په ښۀ توګه څرګنده شي.

د رحمان بابا يو مشهور بېت دے چې:

هم نغمې کاندي هم رقص کا هم خاندي
د رحمان په شعر ترکي د باګرام[8]

باګرام د پېښور زړه نامه ده. دغه بېت کښې اګر که رحمان بابا د پېښور نامه نۀ ده اخستې او ځان ته ئې پېښورے نۀ دي وئيلي او خاصيت ئې هم دا دے چې دا اندازه ترې په آسانه لګېدے شي چې دا شعر يو داسې پښتون شاعر وئيلے دے چې د "باګرام" يعنې پېښور سره تعلق لري. هم دغه رنګ په يو څو لاندينو شعرونو کښې هم په ډېره خوندناکه او مؤثره ذريعه خپله معشوقه هم يادوي. خو د خپل وطن، قوميت او مقاميت په نظر کښې ضرور ساتلي دي.

لکه دا بېتونه چې:

په حملو حملو مې زړۀ وړي نۀ پوهېږم
اپريدئ ده که خټک، الغياث
بېلتانۀ ئې پېښور راته تنور کړو
لۀ خېبره تر اټکه الغياث[9]

د جذباتو او احساساتو ساده بيان، د مقاميت د بې ساختګئ، بې تکلفئ او د دې مؤثره اظهار نه علاوه د دې بېتونو تلازمي هم د داد و تحسين لائقې دي. د اپريدو، خېبر، اټک او خټکو تعلق او د دوئ تر مېنځه د مغرب نه تر مشرقه د پېښور حدونه چې په کوم حسين طرز ښکاره کړے شوې دي، ښکلا ئې څرګنده ده. د رحمان بابا په ديوان کښې داسې نور شعرونه هم شته چې په واضحه طريقه ئې پکښې د خپلې قبيلې نامه اخستې ده. د مثال په طور دا بېت چې:

يو خوشحال يو کم سل خټک نور په طبيعت کښې
ځار شه د رحمان سړبني لۀ يوه فرده

دې بېت کښې د "سړبن" لۀ کلمې څرګنده ده زمونږ شاعر کوم پښتون ښاخ سره تعلق دے او په دې لانديني شعر کښې خو ئې ځان ته ښکاره "رحمان مومند" وئيلي دي. اګر که شاعرانه تعلي ده خو په مؤثره پېرايه کښې وائي چې:

کۀ ئې شعر د رحمان مومند تر غوږ شي
غوږ به نۀ باسي په شعر د خوشحال څوک

دغه رنګ په لاندیني بیت کښې ئې هم د ځان ښودنه کوې او وائي چې "غوریاخېل" کېدل یعنې مومند یا داؤدزے کېدل یا په نورو ټکیو کښې پښتون کېدل د هنر، عظمت یا د لوئے نصیب او بخت دلیل دے چې وائي:

هیڅ حاجت د هنر نشته و نصیب ته
غزا وشوه کۀ مومند کۀ داودؤزے شوم

او بل ځائے کښې خپله ستائینه داسې کوي چې:

یو کتاب په سرېن کښې چا ونکړ
بې رحمانه چې ئې کړے دے کتاب[10]

دغه شعر کښې زمونږ شاعر رحمان بابا د نورو قبیلو په پښتنو شاعرانو او ادیبانو رشک کوي. چې پخپلو هلو ځلو ئې پښتو ژبه او ادب پاللي دي. او بیا په دې هم ویاړ کوي چې په سړبنو کښې هم فقط "رحمان بابا" ته دا شرف حاصل دے چې کتاب ئې کړے دے. دا هم شاعرانه تعلي ده. که حقیقت ته اوکتلے شي نو په روښانیانو کښې له رحمان بابا نه اول داسې شاعران تېر دي چې د شعرونو دیوانونه ئې کړي دي او له ځانه وروستو ئې پرېښي دي.
رحمان بابا په دې دعائیه بیت کښې خو د کُل پښتون دپاره د "افغان" لفظ پکاروي چې:

چې کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرعه مې زلفې د خوبان کړې[11]

او په دې بیت کښې د الله تعالیٰ نه په ډېره عاجزۍ، خلوص او ښائسته پیرایه کښې غوښتنه کوي چې د شاعر ادبي هلې ځلې دې د پښتون د زړونو او ذهنونو د خوشبوئۍ او پاکیزګۍ او د پښتونخوا د علمي او ادبي ترقۍ او سیالۍ باعث او سبب وګرځي.
د رحمان بابا په دیوان یا کلیات کښې یو اوږد نظم لولو چې په هغې کښې ئې د خپلې زمانې د خلیلو او مومندو د اوبۀ خور مسائلو، مشکلاتو او لۀ هغې ځنې د راولاړېدونکو اخلاقي خرابۍ بیان کړي دي. هر څوک چې د خلیلو او مومندو د حالاتو نه اګاهي لري هغوئ په دې هم پوهه دي چې د یو قبیلې معاشي بدحالي تر ډېره حده د نورو نه علاوه د کرکیلې او زمیندارۍ دپاره ناکافي اوبۀ دي او دغه عِلت ئې د اقتصادي درماندګۍ ذمه وار دے. دا

شعرونه نن هم خپل يو څرګند حقيقت او واقفيت پخپل ځائے لري. دې نظم کښې د پښتنو د ټولنې ځنې بد اړخونه هم بربېښي او داسې ښکاري چې د دې شعرونو وئيلو په وخت د رحمان بابا ذهن هم د دغو خرابو د خبرتيا نه خالي نۀ وو. د نظم څو بېتونه داسې دي چې:

هر چې کښت ئې په باران او په سېلاب وي
د هغو عمر به واړه په عذاب وي
هغه ملک چې پکښې سند او رود بار نۀ وي
دهقانان به ئې همه خانه خراب وي
د اوبو لۀ ډېرې ډېرې قيمتيه
لرګي لوښي ئې مردار په منجلاب وي
فرق د پاکو د ناپاکو اوبو نۀ کا
کۀ اوبۀ ئې ګډې وډې لۀ پائيناب وي
د اوبو په غلا چې ورشي نۀ جار ووځي
کۀ ساکن د خانقاه و د محراب وي
د اوبو په ويش چې ورشي انصاف پرېږدي
کۀ په لاس ئې ورقونه د کتاب وي
په سبب د ډېره ډېره تيممه
همېشه به ئې سپېره ږيره په تراب وي
د للمې سرې په مخ کښې وي آب چيرې
هغه خلق چې بې آب وي خو بې آب وي
يو هغه سړے تېرې ورباندې کاندې
چې په عمر نۀ د سوال نۀ د ځواب وي
همسايه وي چريکار د پښتانۀ شي
او په اصل به مو چې يا به قصاب وي
تر دا هسې زميندارو هغه به وي
چې نوکر د يوه تور کافر کلاب وي
نوکري د يوه سپي ورلره ښۀ ده
هغه پرېږده چې لا نوم ئې د نواب وي
د خشکۍ لۀ غمه قوم د رحمان خوښ دے
کۀ رفتن ئې له جهانه په شتاب وي[12]

په دغه ټول نظم کښې ما ترې په اختصار شعرونه رانقل کړۀ. رحمان بابا د خپلې زمانې د حالاتو او د عامو وګړو انساني رويئې د اوبو د کموت او د خشکۍ له سببه د زميندارو د عام

ژوند د معیشت نقشه په ډېرو کوټلو او ښکلو لفظونو کښې راکښلې ده. دغو شعرونو کښې چې کله لوستونکے دې مصرعې ته راورسي چې:

په آبۍ کښې ئې لا هم وي خونه ورانه
هغه کلے چې د بل کلي پائیناب وي
یو به نهٔ سي هیڅ برے لهٔ سري ورخه
پائینا وے سړے کهٔ زویه د ارباب وي[13]

او بیا خصوصاً دغه شعر چې:

همایه وي چریکار د پښتانهٔ شي
او په اصل به موچي یا به قصاب وي[14]

نو مخې سره په دې نتیجه ورسي چې د خپل دور دغه معاشي بدحالۍ او تکلیفونه او د هغو نه پیدا کېدونکې اخلاقي خرابۍ یو پښتون شاعر او مبصر بیانوي. چې خپله په دغه اوچه خاوره ژوند کوي. دغو شعرونو کښې د ذات پات د تقسیم او ترې زېږیوونکې نتیجې هم دي. او رحمان بابا هم لکه د نورو عامو وګړو د انساني رویو لهٔ رویه موچي او قصاب ته په سپک نظر کتلي دي. اګرکه عام طور دا یو خیال د رحمان بابا پحقله د خلقو جوړ شوے دے. چې هغه یو غریب سړے وو، د دنیا او دولت سره ئې څهٔ کار نهٔ لرلو او انسان او انسانیت ئې لوئے شرف او عزت ګڼلو او هم په دغه سبب ورته "د انسانیت شاعر" هم وئیلے شوے دے. خو بیا هم مونږ په دغه نتیجه رسو چې رحمان بابا په خپله قبیله او قام کښې د ذاتونو لهٔ رویه د اوچت ذات سره تړون لرلو. خو مونږ د رحمان بابا د دغه قسمه شاعرۍ په لړ کښې دا په وثوق سره نهٔ شو وئیلے چې دا به رحمان بابا په کوم وخت کښې وئیلي دي. خو غالب ګمان دا دے چې دا ئې د ابتدائي زمانې شاعري وي او له دې نه پس ئې د شعري سفر او وخت تېرۍ سره د شاعرۍ ارتقائي منازل طے کړي دي. او ارتکاز طرف ته تللے وي. او بیا ئې په خیالاتو کښې وسعت، نور ارفعیت او عالمګیریت یا افاقیت راغلے وي. او بیا دا وئیلے شو چې دا قسمه شاعري د شاعرانو خیالاتو سره غېر شعوري طور وارد شوي وي چې د ماحول عکاسي کوي او د دور خرابۍ پکښې جوته لیدے شي. ځکه چې هر شاعر د خپل دور، حالاتو او چاپېرچل ترجمان او عکاس وي.

په دې حقله ډاکټر حنیف خلیل وائي چې:

"د رحمان بابا د کلام نه صفا معلومېږي چې هغه د دنیا په غټو غټو مسئلو کښې چې په وړو وړو مسئلو هم کار لرلے دے. د دنیا په اقتصادي مسئلو يې هم شعرونه

وئيل دي او په معاشرتي هم. د دنيا په سياسي اړخ يې هم خيالات ښکاره کړي دي او په زرعي هم. مختصر دا چې د دنيا پحقله په مختلفو اړخونو د هغهٔ په ديوان کښې اشعار په نظر راځي".[15]

دغه رنګ د رحمان بابا په زمانه کښې يوه واقعه هم د هغوئ په نظمونو کښې ليدے شي. چې رحمان بابا پکښې د خپلې علاقې د دوؤ يارانو ګل خان او جمال خان واقعه هم د خپلو حالاتو او چاپيرچل د عکاسۍ او ترجمانۍ په توګه په داسې شاعرانه جذبه او انداز منظوم کړې ده چې د لوستونکو په زړهٔ او ذهن کښې د ترحم او همدردۍ جذبه راپاروي. ځکه چې دغه واقعه کښې د انساني همدردۍ د غم او افسوس څرګندونه شوې ده. دلته ترې د خپلې خبرې د ثبوت او تصديق په غرض ځنې هغه بېتونه رااخلو چې د پښتو، پښتونولۍ، پت، غېرت، ننګ او وفا ستائينه پکښې شوې ده. رحمان بابا د ګل خان او جمال خان چې د خپل دوست جمال خان سره يو ځائے په اور کښې وسوزېدو، او د هغه کسانو چې د خطرې په وخت ترې ډډې ته شول، تذکره داسې کوي چې:

ډېر ياران وو د ګل خان د جمال خان
په کار نهٔ شهٔ يو په وخت د زارستان
د همه واړو يارانو مخ دې تور شي
کهٔ به څوک وبله ياري کا په دا شان
چې يو يارپه سيوري ناست وي بل په اور کښې
و هغو ته به څوک څهٔ وائي ياران
هيڅ تعريف به ئې په ژبه راونهٔ شي
صد رحمت شه په يار يه د ګل خان
تر دا هور ته د يار په شرط نور څهٔ دے
چې په اور کښې دواړه وسوزي يکسان
چې لهٔ أله لهٔ اولاد سره وسول
خدائے دې نهٔ کا څوک دا هسې مظلومان
چې په اور کښې يو د بل دپاره سوزي
ما ليدلي نهٔ وو هسې مخلصان[16]

دغه اهمه واقعه کښې دا خبره مخې ته راغلې ده چې د وخت د حکومت (د مغلو د دولت خواهانو سردارانو) پکښې لاس وو. د هغه وخت د حکومتي حکمرانانو رويه د اولس سره او بيا په تېره تېره په ټوله پښتونخوا کښې ښهٔ او سمه نهٔ وه. په دغه واقعه د خپل وخت دوو نابغه شاعرانو او د رحمان بابا معاصرينو عبدالحميد بابا او عبدالقادر خان خټک هم خپل

خپل نظرونه د شعرونو (نظمونو) په شکل کښې وړاندې کړي دي. خو رحمان بابا ورته د انسانيت په سترګو ګوري. عبدالحميد بابا ورته د قام د ننګ او مرستې او عبدالقادر خټک ورته د مغل او پښتون دښمنۍ نظر کوي.

د حميد بابا د نظم څو بيته داسې دي:

هر سردار چې د خپل قوم د بدو خيال کا
آئينه دې د خپل ځان حال و جمال کا
پرېکوي د خپلو ښپو لاندې ښاخونه
چې بدي د عزيزانو په زړۀ نهال کا
عاقبت هغه سردار شي سردار پاتې
چې ئې نس و خپلو بدو ته لېوال کا
په پرديو مړانه نۀ کيږي بې خپلو
لۀ لحده دا آواز جمال جلال کا
پردئ هيڅا نۀ دي خپلي کړې
بلکې خپلې به پرې بائيلي چې دا خيال کا
خود بدنام په دا جمال خدائے خدريزی کړۀ
ګڼه هره چاره په خلقو خپله اعمال کا[17]

هم دغه رنګ عبدالقادر خان خټک خپل نظم کښې وائي چې:

دا خبرې چې ګانده عياني دي
هيڅ په خوا په خاطر نه وو آسماني دي
نن نسيم د پښور لۀ لوري راغے
څو وېنا ئې راته کړې زباني دي
چې نن شپه مومندو ووهلې تورې
چې وهلي نۀ افغان نۀ توراني دي
ليندو غړ په غشيو وکړ کُشاد کاڼي
په سرتور توري وهی جمال خاني دي
د باړې اوبۀ ئې سرې لکه شراب کړې
د سربند کاڼي همه ارغواني دي
يګانه زلميو غړ و بله وکړۀ
چې وهه فلاني وهه هندوستاني دي
همېشه پښتون مومندو دے دروند کړے

کهٔ سبب ئې د خِفت میر افغاني دي
افریدي، شینواري جنگ په غرونو کاندي
غوریه خېل په مېدان جنگ کا مېداني دي[18]

د پېښور د مغلو او پښتنو حاکمانو او سردارانو لهٔ لاسه چې د اولس بد حالت کوم حد ته رسېدلے وو هغه رحمان بابا په دې لفظونو بیان کړے دے.

په سبب د ظالمانو حاکمانو
گور او اور او پېښور درې واړه یو دي[19]

او دغه بېت خو دومره واضحه دے چې څوک ئې هم لولي او د دنیا په هره ژبه ترجمه شي نو لوستونکي به ئې ارو مرو لهٔ وطنه او مقامتیا خبرېږي.

په رحمان بابا یو عام اعتراض دا هم کیږي چې د دوئ په شاعرئ کښې د هغه تحریک څهٔ نخښه او نوم نشته چې د خوشحال خان خټک، دریا خان او ایمل خان مومند د مغلو خلاف شروع کړے وو او خو دې سلسله کښې به دا اووایو چې د رحمان بابا نه علاوه د پښتو بل شاعر چې د هغه زمانې سره ئې تعلق لرلو، عبدالحمید بابا خو بیخي خاموش پاتې شوے دے. محض د وو د پټې یو غزل نما نظم کښې ئې د دور د ظالمانو لکه د رحمان بابا غندنه کړې ده او د رحمان بابا د پورتني بېت سره سم ئې دا شعر رااخلو چې:

غریب خلق مردگان پکښې ورتیږي
ظالمان نکیر منکر پېښور گور شو[20]

خو بیا هم د رحمان بابا په کلام کښې داسې شهادت شته چې د پښتنو خلاف کوم تجاوزانه اقدامات شوي وو. رحمان بابا د هغې نه بې خبره نهٔ وو. څکه چې هغه د اورنگزېب د خپلې کورنئ سره د زور زیاتي بیانولو نه پس د هغهٔ غندنه داسې کړې وه چې:

اورنگزېب هم یو فقیر وو
چې ټوپئ ئې وه په سر
و ټوپئ و ته ئې شا کړه
چې قادر شو په افسر
گوره څهٔ چارې ئې وکړې
په عیال د خپل پدر
وار په وار ئې تر تېغ کړ
د خرم تمام ټبر

په فريب فريب ئې خپل کړۀ
بيجاپور او باګ نګر
هم ئې هنه په ډکه واخست
هم کابل هم پېښور[21]

د دغه اوږد نظم چې مونږ ترې دغه څو بېتونه د نمونې په توګه راواخستل په وروستني بېت کښې د اورنګزېب د کابل او پېښور په ډکه اخستلو نه مراد ئې د هغه د اېمل خان د تحريک (پاڅون) په دوران کښې حسن ابدال ته د راتلو او د پېښور برخلاف سخت نه سخت قوي اقداماتو کولو نه اشاره ده، د رحمان بابا په کلام کښې د هغۀ د ژبې، وطن، قوم، قبيلې، خپلې زمانې او چاپېرچل ذکر په ښو الفاظو کښې موجود دے چې د قوميت او وطنيت رنګ هم لري او هغه خواهش او ارمان هم لري چې د هغۀ "کشور" د افغانانو وطن (پښتونخوا) دې علمي او ادبي ترقي وکړي او مخ په وړاندې لاړ شي. لۀ دې نه علاوه د رحمان بابا په کلام کښې د پښتنو د قامي کردار او اخلاقياتو څنې اړخونه هم ښۀ څرګند دي او له دې مونږ په دې نتيجه رسو چې رحمان بابا د ژوند د قدرونو ترجمان شاعر وو. ژوندے، ويښ او بېدار شاعر وو چې د قنوطيت سرۀ نه بلکې د رجائيت سرۀ پرې غلبه وو.

## حوالې


[١] د رحمان بابا کليات، تحقيق، ترتيب او سمونه، دوست محمد خان کامل موmند او قلندر مومند، چاپ ځائے کوهاټ روډ پېښور، ١٩٨٤ء، مخ ٣٢٣

[٢] هم دغه حواله، مخ ٩٧

[٣] هم دغه حواله، مخ ٦١٩

[٤] هم دغه حواله، مخ ٩٣

[٥] ديوان عبدالرحمان بابا، پروفېسر محمد افضل رضا، زېب آرټ پبلشرز، چاپ کال ٢٠٠٠ء مخ ٦٤

[٦] رحمان او اقبال، سيد محمد رضا شاه رضا، پشتو رحمان نمبر مئی جون ١٩٧٦ء پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون مخ ٦٣

[٧] هم دغه حواله، مخ ٣٣٧

[٨] رحمان بابا(تاريخي، علمي او ادبي جاج)، دوست محمد خان کامل مومند، ترتيب او تدوين محمد زبېر حسرت، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، ٢٠٠٦ء، مخ ٢٢٩

[۹] هم دغه حواله، مخ ۲۳۰

[۱۰] هم دغه حواله، مخ ۲۳۱

[۱۱] شاعر انسانیت، میر عبدالصمد خان، عظیم پبلشنګ هاؤس پېښور، د چاپ کال ۱۹۸۳ء، مخ ۱۱٤

[۱۲] رحمان پوهنه، رحمان ادبي جرګه پېښور، د چاپ کال ۱۹۹۳ء، مخونه ۱۷٦، ۱۷۷

[۱۳] دیوان عبدالرحمٰن بابا، مقدمه د سید رسول رسا، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، د چاپ کال ۱۹۹۸ء، مخ ۱۰۹

[۱٤] هم دغه حواله، مخ ۱۰۹

[۱۵] د رحمان بابا اعجاز، حنیف خلیل، اداره علم و فن پاکستان، چاپ کال اګست ۱۹۹۷ء مخ ۹۰

[۱٦] هم دغه حواله، مخ ۸۱

[۱۷] دُر او مرجان (دیوان عبدالحمید)، مرتبه سید انوارالحق، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، مخ ۹۵

[۱۸] حدیقه خټک، (دیوان عبدالقادر خان خټک)، مرتبه سید انوارالحق، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، مخ ۲۵٤

[۱۹] رحمان بابا، پروفېسر داور خان داؤد، عظیم پبلشنګ هاؤس پېښور، د چاپ کال ۱۹۸۳ء، مخ ٤٤

[۲۰] هم دغه حواله، مخ

[۲۱] شاعر انسانیت، میر عبدالصمد خان، عظیم پبلشنګ هاؤس پېښور، د چاپ کال ۱۹۸۳ء، مخ ۱۵۳